# د نري رنځ (توبرکلوز) پټ یا ویده حالت – کله چې درملنې لاندې نیول کیږي

د سویډن د ساري ناروغیو د کنټرول د ډاکټرانو له خوا د ناروغانو لپاره معلومات.

## ولې ماته دا معلومات راکړل شوي دي؟

ستاسو معاینې ښودلې چې تاسو د نري رنځ پټ یا ویده حالت لرئ ستاسو ډاکټر ارزونه کړې چې تاسو درملنې ته اړتیا لرئ ، تر څو په راتلونکي کې د نري رنځ له امله ناروغه نشئ.

په دې معلوماتو کې به تاسو زده کړئ چې کومو شیانو ته باید پام وکړئ.

## د نري رنځ پټ یا ویده حالت څه شی دی؟

د نري رنځ پټ یا ویده حالت دا معنا لري چې تاسو د نري رنځ له باکتریاوو سره اخته شوي یاست، خو ناروغ نه یاست. کله چې یو کس د نري رنځ په باکتریاوو اخته شي، د بدن دفاعي غبرګون د وینې یا د پوستکي په معاینه کې معلومېدای شي. ډېری هغه کسان چې په دغې ناروغۍ اخته کیږي، روغ او صحتمنده پاتې کیږي، خو لږ خطر وي چې په راتلونکي ژوند کې د نري رنځ له امله ناروغه شي.

هغه کسان چې تازه (په دې وروستیو کې) په نري رنځ اخته شوي وي، امیندواره ښځې، هغه ښځې چې په دې وروستیو کې یې ماشوم زیږولی وي، ماشومان او تنکي ځوانان، او هغه کسان چې د ناروغۍ یا د درملو له امله یې د بدن دفاعي سیستم کمزوری شوی وي، په راتلونکي کې د نري رنځ له امله د ناروغه کېدو له زیات خطر سره مخ وي.

## ایا د نري رنځ پټ یا ویده حالت ساري دی؟

نه. د نري رنځ پټ یا ویده حالت نورو کسانو ته نه ځي. نری رنځ هغه وخت نورو ته لیږدېدای شي چې یو کس د نري رنځ په ناروغۍ اخته او ناروغ وي او نری رنځ یې په سږو کې وي.

## ایا زه د نري رنځ د پټ یا ویده حالت لپاره درملنې ته اړتیا لرم؟

هو، ډاکټر ارزونه کړې چې ستاسو درملنه وشي، تر څو په راتلونکي کې د نري رنځ له امله د ناروغه کېدو خطر مو کم شي.

## کومو ټکو ته باید پام وکړم؟

داسې کومه معاینه نشته چې په ډاګه کړي چې د درملنې له بشپړېدو وروسته د نري رنځ ټول باکتریاوې له بدن څخه له منځه تللي دي او تاسو کېدای شي بیا هم په راتلونکي کې پرې اخته شئ.

که په راتلونکي کې مو له دربیو اوونیو څخه زیات دوام داره ټوخی، تبه، د شپې لخوا خولې پیدا کړې یا بې له دلیله مو وزن مخ په کمېدو شو، له خپل ډاکټر سره اړیکه ونیسئ او ورته ووایئ چې پخوا مو د نري رنځ پټ یا ویده حالت لپاره درملنه کړې ده.

## د اړیکې معلومات (Kontaktuppgifter)

روغتیایي مرکز:(Mottagning)…………………………………………………………………………………

……………………………………………………………………………………………………………

تلیفون:(Telefon)…………………………………………………………………………………………